مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۱۲ / ۲۸

# د ګانی ښارویان!

لږ مهال مخکې چې د خاورو تیل او د فابریکو غوړي ډېر دود نه ول، خلکو به په ګانی کې د پنداني، زغرو او کونځلو ښخه تیل ایستل او کارول.
د تیلو ګانی کې به سنډا، غوايي او یا بل ښاروی تړلي سترګې د ګانی د موړي پر شاوخوا پرلپسې ګرځېده چې له یادو دانو ښخه تیل وباسي. د ښاروي سترګې يې ځکه تړلي چې پوه نه شي ښنګه ګرځي او بلخوا حس کړي چې د ګانی مزدور يې ترشا تل حاضر دی. کله چې به ښاروي حس کړه چې ځوک يې شا ته نشته او لږ به ورو شو، د ګانی مزدور به په لښته ډب ورکړ او ښاروي به بیرته ګړندی شو. یو وخت به راغی چې ښاروی به په ګرځېدا عادت شو او د مزدور له ډبه پرته به هم پرلپسې ګرځېده.
له ډېر پخوا په تېره بیا د غازي امان الله خان له پیر راهیسې، لس یولس لسیزې وروسته هم ډېری افغانان لکه د تیلو ګانی ښارویان، د هغه زوړ اسلامي موړي پر محور ځرخي چې ملا ورته ځو پیړی مخکې پر ذهن کې تومبلی دی.
کله چې ملا حس کړي چې ټولنه بیا د وخت د غوښتنو له مخې او د تجدد د پلویانو په مټ، د هغه موړي پر محور له ګرځېدا ورو شوې ده، بیا لغته او ډب ورکړي او ټولنه بیرته سربداله پخپل زوړ محور چورلېدا ته اړباسي!
نن مهال ډېری افغانان د عادت له مخې لکه د ګانی معتاد ښارویان، د ملا پر زوړ تومبلي موړي، تړلي سترګې ځرخيږي!
نو ځکه رحمان بابا لا پخوا ویلي ول:
علت لاړ شي له سري نه عادت نه ځي
خدای دې نه کاندې په بد چارې عادت ځوک
«د بلې سیارې خلک»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ